**خلاصه**

## د یو زده کوونکي په حیث
## په خپلو حقوقو پوه شئ

- ایالتي دولتي قوانین ډېر توپیر لري خو په عمومي توګه دا قوانین اجرا دي چې ستاسو ښوونځي تاسو د ځورونې او تبعیض څخه ساتي.
- تاسو د راپور ورکولو حق لرئ، او باید راپور ورکړئ چې ستاسې په ښوونځي کې ځورونه یا ربړول شته.
- زده کوونکي حق لري چې خپل نظر ووايي او په خپله خوښه جامې واغوندي. که تاسو ته وویل شي چې د ښوونځي په داسې یوه پالسۍ چلند وکړئ چې تاسې باور لرئ چې توپیریزه ده، د CAIR سره اړیکې ونیسئ .
- په ښوونځي کې د ځورونې یا تبعیض راپور CAIR ته ورکړئ



# KNOW YOUR RIGHTS

د یو زده کوونکي په حیث

*As a Student*

دا معلومات باید د قانوني مشورې په توګه ونه منل شي

CAIR

په امریکا کې داسلامي اړیکو شورا

*Council On American-Islamic Relations*

WWW.CAIR.COM

# KNOW YOUR RIGHTS

*Council on American-Islamic Relations*

**موږ ټول حق لرو چې په خپل طبیعت واوسو او په خوندي او منل شوي ښوونيز چاپيريال کې زده کړه وکړو**

يادونه: لاندې حقوق په دولتي ښوونځيو او يا هغه ښوونځي چې دولتي بوديجه (پيسې) ترلاسه کوي د تطبيق وړ دي.

که تاسو کومه مسئله لرئ او په شخصی ښوونځی کې زده کړه کوئ، د خپل سيمه ايز CAIR دفتر سره اړيکه ونيسئ.

## رخصتي او لمونځونه

- ښوونځي نشي کولی چې زده کوونکي د هغوی په مذهبی ورځو کې د غيرحاضريدو له کبله سزا ورکړي. تاسو بايد د اخترونو لپاره مخکې له مخکې د رخصتيو غوښتنه وکړئ.
- تاسو کولی شئ چې په انفرادي ډول او يا په ډله ايزه توګه په ښوونځی کې لمونځ وکړئ. CAIR تاسو ته مشوره درکوي چې د لمونځ لپاره داسې وخت غوره کړئ چې د ښوونځي له فعاليتونو او د ټولګی له وخت سره يو نه وي.
- ښوونځی مسوولیت نه لري چې د لمونځ لپاره ځانګړې خونه ولري، خو زده کوونکی بايد داسې ځای ته لاسرسی ولري چې د لمونځ لپاره مناسب وي.
- تاسو ته کيدی شي چې اجازه درکړل شي چې د جمعې لمونځ لپاره ښوونځی پريږدئ، مګر دا تل شونې او حتمي نه ده. تاسې بايد د ښوونځې د چارواکو سره همغږې شئ که تاسو غواړئ چې دا کار وکړئ.

## د جامو اغوستلو پاليسي

- تاسو حق لرئ چې خپل حجاب يا خولۍ واغوندئ، او يا بل څير ځان پټ کړئ، سره له دې که ستاسو ښوونځی د جامو پاليسي يا يونيفورم هم ولري.
- که تاسو نه غواړئ چې د ښوونځی په هغو فعاليتونو کې برخه واخلئ چې تاسې ورته بايد حجاب ليرې کړئ او يا ځان په داسې ډول بربنډ کړئ چې ستاسې ديني عقايد د هغې اجازه نه ورکوي، لکه لامبو وهل، ستاسو ښوونځی بايد ستاسې لپاره يو بديل فعاليت برابر کړي.
- که نه غواړئ چې په داسې فعاليتونو کې ګډون وکړئ چې په هغې کې د مخالف جنس سره نږديکت رامينځته کيږي، تاسې کولای شئ د بديل فعاليت غوښتنه وکړئ.
- تاسو حق لرئ چې په سپورتي لوبو کې د ګډون په وخت کې اوږدې او پټې سپورتی لوبو جامې واغوندئ (ستاسو ښوونځی ستاسو د مذهبی پريکړې له امله نشی کولی چې تاسو د لامبو وهلو په سياليو کې له سيالۍ څخه ودروي چې اوږدې او پټې د لامبو جامې مو اغوستې وي)

## ربړول او تعرضات



ايالتي دولتي قوانين ډېر توپير لري خو په عمومي توګه دا قوانين اجرا دي چې ستاسو ښوونځي:

- تاسو د ځورونې او تبعيض څخه ساتي .
- د مذهب، نسل او مليت پر بنسټ ربړول منع دي. ښوونځی بايد خپله د ربړولو پاليسي عامه کړي.
- د ربړولو د شکايتونو د څيړلو لپاره يوه پروسه ولري. که تاسو په ښوونځی کې يو ښوونکي يا بل بالغ کس ته ووایاست چې تاسو ربړل کيږئ، دوی مسووليت لري چې اقدام وکړي چې تاسو سره مرسته وکړي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د ځورونې يا تعرض د راپور له کبله، يا د خپلو مذهبی کړنو لپاره د امکاناتو د غوښتنې لپاره نه جزايي کيږئ .

### ربړول څه دی ؟

* ربړول کيدی شي چې د شخص، نوټ، برښنايي پيغام، يا آنلاين د برېښناليک يا ټولنيزو رسنيو له لارې ترسره شي .
* ربړول کولای شی د انزوا څخه تر ژبني سپکاوي او تر فزيکي تاوتريخوالی پورې واوسی، او معمولاً د يو اوږد وخت په ترڅ کې رامينځته کيږي.
* ربړول کولای شی چې ډير ډولونه ولري. ځينې عامې ستونزې چې مسلمان زده کوونکی ورسره مخ دي هغه د سر څخه د پړوني او خولۍ کش کول دي، د بل دين بدلولو لپاره فشار راوړل، په ټولګي کې د اسلام په اړه د سپکاوي ډکې تبصرې، او فزيکي ناوړه چلند دی.
* ربړول کيدی شي د يوه زده کوونکې لخوا د بل زده کوونکي او يا د ښوونکې او يا ادارې لخوا د زده کوونکې په وړاندې ترسره شي .

**KNOW YOUR RIGHTS** *As a Student*